سیلان سیلانی

۲۰۲۳/۰۴/۱۹

# د پښتو شاعرۍ په قافیوي عیبونو کره کتنه

په تېره لیکنه کې مې هم یادونه وکړه چې د قافیې پوهنې بحث د عربي شاعرۍ بحث او قواعد دي چې په پښتو ژبه پلي کېدونکي نه دي او د پښتو شاعرۍ د قافیې کوم بحث چې په پوهنتونونو کې لوستل کیږي اصلاً د ژبپوهنې بحثونه دي چې دوی یې د قافیې په نوم د شعر د موسیقۍ لپاره تدریسوي.

زموږ د بلاغي علومو استادانو په پښتو قافیه پوهنه کې شپږ حرکتونه او تر لسو زیات عیبونه په ګوته کړي دي، هغه دا چې که چېرې یو شاعر یاد اصول مراعات نکړي شاعري یې نیمګړې او شعر یې عیبجن وي، اما که متوجه شو چې نوموړي اصولو پخپله عیبجن دي او د پښتو ژبې پر ژبنیزو قواعدو پلي کېدنکي نه دي. را ځو دلته یې پیل په دې ډول سره کو:

لومړی: د بیتونو په قافیوي شننه کې لومړی د قافیې کلمې سره جلا کوي، ورپسې هماهنګه برخه په ګوته کوي، بیا یې توري او په بل پړاو کې یې حرکتونه او عیبونه څرګندوي. تاسو د بېلګې په توګه د « ملنګ، پتنګ، لونګ » کلمې د قافیوي کلمو په توګه ومنئ، قافیه پوهان په ذکر شویو کلمو کې د « نګ » فونیمکه جوړه د هماهنګې برخې په توګه انتخابوي او بیا یې « ن » روي او « ګ » یې وصل نوموي.

راځئ اوس همدا کلمې « ملنګ، پتنګ، لونګ» په فونیټیکه الفبا ولیکو او بیا یې قافیوي شننه وکړ - « Malang, Patang, Lawang » په فونیټیکه الفبا کې لیدل کیږي چې د « نګ » څخه وړاندې یو واول یا زور هم د مشترک توري په توګه شته مګر له پامه غورځول شوی دی، په دې بحث کې څو خبرو ته باید اشاره وکړو، لومړی: که چېرې د قافیې قواعد پر پښتو شاعرۍ پلي کېدونکي وي نو باید هماهنګي په زور پیل شوې وی. دویم: که یاد قواعد پلي کېدونکي نه دي نو بیا ولې دومره وقت پرې ضایع کیږي دریم: که خبره زموږ د لیکدود د نیمګړتیا وي بیا هم ولې پردي قواعد زموږ پر نیمګړي لیکدود په نیمګړي توګه تطبیقیږي چې نه کومه ګټه لري او نه علمي پایله؟

دویم: موږ په پښتو قافیه پوهنه کې د قافیې شپږ حرکتونه ( رس، اشباع، حذو، توجیه، مجری او نفاذ) لولو، له حرکتونو نه موخه هماغه د عربي ژبې ( زور، زېر او پېښ ) دي، خو بر عکس موږ په پښتو ژبه کې حرکتونه نلرو او د حرکتونو موضوع زموږ پر ژبپوهنه پلي کېدونکې نه ده ځکه زموږ په ژبه کې هماغه حرکتونه خپلواک توري دي.

د بېلګې په توګه: د « ملنګ او پتنګ - Malang, Patang » په کلمو کې هماهنګي په واول توري پیلیږي، مګر زموږ قافیه پوهان بیا وایي هماهنګي په «ن» پیلیږي او تر «ن» مخکې حرکت زور دی چې حذو یې بولي، دلته هم باید ځینې موضوعاتو ته نغوته وشي، لومړی: زموږ په ژبپوهنه کې حرکتونه نشته، نو ولې پردۍ ژبنیزه قاعده پر خپله ژبې پلي کړو؟ دویم: دا د فونولوژۍ اصول دي چې تر هر توري د مخه، وروسته که واول توری راشي حرکت ورکوي او ژوندی کیږي، همدارنګه یو واول د کلماتو په منځ کې نظر مجاورت او موقعیت ته خپل حرکت او غږ ته بدلون ورکولی شي یا هم کانسونیت توری نظر موقعیت او مجاورت ته د واول تورو پر وړاندې خپل غږ او د اداینې بڼې ته بدلون ورکولی شي، نو بیا دا اضافي پردۍ قاعدو ته څه اړتیا ده؟ دریم: که بحث ددې وي چې زموږ لیکدود ستونزه لري نو بیا هم ولې پردۍ قاعدې باید پر خپل ناقص لیکدود پلي کړو چې هېڅ علمي پایله نلري او یوازې محصلانو ته سر خوږی دی.

دریم: قافیه پوهان وایي کله چې شاعر دوه کلمې یا قافیه او ردیف سره مدغم کړي، نو قافییوي عیب یې را منځته کړ، لکه د ا ستاد ښکلی یو دوه بیتونه

تلی درسره نه شي دا سپین چکې آینې
بندې دي اجمله دیواله کې آینې

همداسې نورې قافیوي کلمې یې لکه په لمانځه، زړه کې، ورکې، نازکې... اوس که همدا کلمې په فونیټیکي الفبا ولیکو « ʧək ke، ke diwaləke، wrəke...» تاسو که ددغو کلمو فونیټیکي بڼې ته ځیر شئ نو په لومړۍ کلمه کې تر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

« چ » وروسته زورکی راغلی، په دویمه کلمه کې له «ل» وروسته او دریمه کلمه کې تر « ر » وروسته زورکی راغلی دی. دلته اصلاً کوم فونولوژیک یا ددوی په اصطلاح قافیوي عیب نه دی موجود ځکه زموږ د ژبې لیکدود همداسي دی چي زموږ ځیني توري گرافیم نلري یا هم د کلمو په منځ کې گرافیم نلري لکه زورکی، نو په حقیقت کې هغه پورته لیکل شوې کلمي سره فونولوژیکه هماهنگي لري، اما دوی یې د پردي علم پر بنسټ یې قافیوي عیب بولي.

بل ځای د قافیي په عیبونو کې وینو چي کله شاعر دوه کلمي سره مدغم کړي نو دوی یې د قافیي پوهني د اصولو له مخي عیب بولي لکه :

کړه یې خونه مشاطي د زلفو ما ته

پرېشاني یې شوه په دا تر حده زیاته

په پورته بیت کې « د ما ته او زیاته » کلمو کې « ته » ردیف دی، خو شاعر په دویمه مسره کې مدغم کړې ده، قافیه پوهان یې عیب بولي. موږ په ژبپوهنه کې یو قاعده لرو چي د هغې له مخي کله نا کله یو توری په کلماتو کې زیاتیږي یا هم حذفیږي یا هم بدلیږي، دلته هم د یو توري حذف کېدل دي او د « زیاته » اصلي بڼه « زيات ته » ده، خو په ژبپوهنه کې یوه قاعده ده کله چي دوه کلمي څنګ په څنګ د ترکیب بڼه ځانته غوره کړي او د دواړو کلمو د وصلېدو توري کانسونېنټ وي نو یو کانسونېنټ تري حذف کیږي د « زیاته» په کلمه کې هم یو « ت » حذف شوی، نو دلته کوم فونولوژیک یا هم ددوی په اصطلاح قافیوي عیب نشته، دا کار د لیکلو، لوستلو او اورېدلو د سهولت لپاره کیږي چي اسانه ولوستل یا هم د اورېدو پر مهال پر غوږ ښه ولګیږي.

د پښتو شعر د قافیه پوهني په عیبونو کې اکثریت عیبونه پخپله عیبجن دي، خو زه دلته لیکني د لنډون په خاطر له ټولو تبصرو تېرېږم یوازې یو بل بحث هم د پښتو شاعری د قافیوي عیب په هکله راخلم.

ځیني وخت شاعر پخپل شعر کې پردی کلمي په مفغن شکل لیکي یا یې د خپل شعر د هماهنګۍ لپاره راوړي خو د پردی ژبي کلمي وي، لکه: « خیاط،حیات، میرات، ارتباط، بساط...» قافیه پوهان یې د عربي قافیي د اصولو له مخي عیب شعر ګني.

ما په تېر لیکنه کي هم ویلي و چي د هم قافیه یا فونولوژیکو کلمو د ډلبندۍ لپاره معقوله او علمي ډلبندي داده چي هم قافیه کلمي په دوو برخو ووېشو، لومړی هغه قافیوي کلمي چي اورېدل کیږي یا اوریزه قافیه دویم هغه کلمي لیکل کیږي یا لکنیزه قافیه، په اوریزه قافیه کې د کلمو په غږونو تمرکز کیږي چي څه ډول اورېدل کیږي هماهنګي سره لري او کنه، په غوږ ښه لګي که بد، موزیکال هماهنګي لري او کنه، موسیقیت ښه دی که بد او دې ورته برخو ته پاملرنه کیږي، نو په داسي یو حالت زموږ هنرمند په پښتو شعر کې پردی کلمي د افغاني فرهنګ او ژبنیزو اصولو له مخي تلفظ کوي تر څو د اورېدونکو په غوږ ښې ولګیږي او دی ته هېڅکله عیب نشو ویلی.

د بحث بله برخه داده چي پردی کلمي موږ څنګه مفغن کولی شو، په پښتو ژبه کې داسي کومه خاصه قاعده لا تر اوسه ما نه ده لیدلي، مګر ایرانیان هغه عربي کلمي چي دوی یې د دري کلمو سره په یوه مخرج ادا کوي په هماغه مخرج لیکي، لکه: د « ذ،ز،ظ یا هم س، ث، ص...» زما په آند په ژبپوهنه د پردیو ژبو د کلمو بالخصوص د عربي کلمو د لیکلو لپاره دا ډېره مناسبه او ښه طرحه ده، نو که چېرې زموږ شاعر عربي کلمي په افغاني بڼه لیکي دا هېڅ عیب نه ګڼل کیږي بیا په ځانګړي توګه په شعر کې ځکه که چېرې زموږ هنرمند یا هم لوستونکی عربي کلمات په عربي مخرج ادا کړي سندره اصلاً موسیقیت له لاسه ورکوي بله خبر داده چي اکثریت قاطع وګړي یې نشي ادا کولی، نو بیا ولي ورته عیب ووایو؟ سر بېره پر دې د کلماتو په پور اخیستنه کې د ژبپوهني یو اصل دادی چي پردی کلمي باید د ویونکي د ژبې د قواعدو له مخي ولوستل او ولیکل شي، په دې برخه کې زموږ دیني کلمات مستثنی دي.

## پایله:

د پښتو قافیي پوهني په نوم چي کوم مضمون زموږ په پوهنتونونو کې لوستل کیږي، اصلاً زموږ د شعر پوهني له اصولو سره برابره پوهه نه ده او نه زموږ په شعر پلي کېدونکي ده. کوم بحثونه ( د قافیي توري، د قافیي ډولونه، حرکتونه، عیبونه...) چي په قافیه پوهنه کې تر سره کیږي په ټولیزه توګه د ژبپوهني په ځانګړې توګه د فونولوژي بحثونه دي چي د قافیي په نوم پردی پوهه نه یوازي چي کټه نلري بلکي زدکړیالانو ته سرخوږی او اضافي بوج دی. د پښتو ادبیاتو د یو محصل په توګه مي وړاندیز دادی چي په قافیه پوهنه کې د شعر د قافیوي کلمو په تصویر آفریني، سمبولېزم، ارواېي فکتونو او امفکتونو، موسیقیت، پارادوکس او دې ورته مفردات ځای پر ځای کړئ.

درنښت سیلانی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ